AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ
۲۰۲۱/۰۱/۱۲

# د وطن مور ته

موري دلته خلک ډیر دي زه یواځې
یو پر بل له سره تیر دي زه یواځې

په شنو سترګو کې وصلت د بل شین سترګي
خندنی د ګل په څیر دي زه یواځی

لند نی سترګي کتلو کې چیچل کا
د ترخو زهرو په څیر دي زه یواځې

زه په خپلو کلیوالو کی تنها یم
څوک یی من څوک یی په سیر دي زه یواځې

ستا لیدو پسې زړګی زما ښویږي
ستا کتل له نورو هیر دي زه یواځې

زه د خپلو د شقاق په اور کړیږم
ښکلی خلک ترینه هیر دي زه یواځې

دلته یو د بل په ویر باندې مستي کا
د ترخې نشې په څیر دي زه یواځې

هسکه غاړه غلامي ته هوسیږي
له ناموسه ورته تیر دي زه یواځې

کوم یو خال که ستا د مینې ملنګي کا
نور تر هر څه ورته تیر دي زه یواځې

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ